مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۶/۰۲/ ۲۴

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(لومړۍ برخه)

## پښتانه یوه وینه او د یو پلار (پښتون) زامن (۱)

د نړۍ وګړي چې دوه تنه یو ډول ښېرې نه لري،[1] د نړۍ بېلابېل توکمونه او قومونه جوړوي چې هر وګړی په یو قوم پورې تړاو لري او ډېرې قومونه د خپلو نیکونو په نومونو یادیږي چې له دغو قبیلو څخه یو هم د پښتنو ویاړلی قوم دی چې د خپل پلار **(پښتون یا پوخټون)** په نوم یادیږي، پښتانه چې د یو پلار پښتون زامن دي، دا د یو پلار زامن، د انګرېز استعمار لهخوا په ۱۸۹۳ز. کال کې د یو تپل شوي تړون له مخې له یو بل څخه جلا کړای شول او د لوی افغانستان په زړه یې یوه ناولې کرښه تېره کړه چې دا کرښه د ډیورنډ په نوم یادیږي. د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو پښتنو ته لر او بر وایي، د کرښې کوزې خوا پښتانه چې تر (آباسیند) سیند پورې ودان دي د انګرېزانو تر واک لاندې راغلل او ځینې سیمې لکه جنوبي او شمالي وزیرستانونه، خیبر، اورکزي، کورمه، مومند او باجوړ، نیمه خپلواکې پاتې شوې چې د (FATA) په نوم یادیدلې. نوموړو سیمو ته انګرېز استعمار له دې کبله نیمه خپلواکي ورکړه چې انګرېزانو نه شول کولی هغوی کنټرول کړي چې تر پایه د اشغالګرو انګرېزانو پر وړاندې جګړېدلي دي.

سره له دې چې د نوموړي کرښې په اوږدو کې د انګرېزانو او پاکستان د واکمنیو پر مهال، پښتنو تر ډېره آزاد تګـراتګ کاوه **خو د اشرف غني د ولسمشرۍ پر مهال پر ډیورنډ کرښه، (د امریکا په مالي مرسته) د پاکستاني پنجابي پوځ لهخوا، په خپل سر او پرته له دې چې له چا وډار شي په داده زړه اغزن تارونه وغځول** چې په پایله کې لوی افغانستان وروسته له (۱۲۵) کلونو، ظاهراً دوه ټوټې شو او د پښتنو آزاد تګـراتګ مخه ونیول شوه.[2]

کله چې له هند څخه د پاکستان په نوم یو نوی هېواد جلا کړای شو، انګرېزانو د مسلم لیګ په نوم خپل غلامان (چې ټول عمر یې په هند کې د انګرېزانو خدمتونه کړي وو)، یو ګوند جوړ او **اسماعیله مذهبه محمد علي جناح چې یو انګرېز الاصله هندی ؤ** او په انګلستان کې یې لوړې زده کړې کړي وې، د پاکستان نوی حکومت ورسپارل شو او **«د هند وایسرای (لارډ ماونټ بیټن) کراچې ته راغلو او د پاکستان د ګورنر جنرال په توګه یې جناح ته لوړه (سوګند) ورکړ.»**[3]

لکه څرنګه چې انګرېزانو له پښتنو سره اوږده دښمني درلوده، همداسې مسلم لیګ، د خپلو بادارانو په څېر له لرو او برو پښتنو سره دښمنۍ ته دوام ورکړ، په ځانګړي توګه له کوزو پښتنو سره (چې مشري

---

[1]: غبرګوني ماشومان یو ډول ښېرې لري چې ځینې یې په سختۍ سره پېژندل کیدای شي.

[2]: **(د ولسمشر اشرف غني تاریخي بدنامي)** دا د هغې لیکنې سرلیک دی چې ما د ۱۳۹۶ل. ل کال د لړم په ۱۷مه نېټه لیکلې وه چې پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار د غځولو کار روان و او موږ هغه وخت د اوسنۍ جګړې په څېر چې د اوسمهال د پنجابي پوځ او افغان ځواکونو تر منځ روانه ده، د جګړې وړاندیز کړی و. (د ډېرو مالوماتو لپاره په افغان جرمن پورتال کې نوموړې لیکنه ولولئ.)

[3]: عبدالولي خان: رښتیا رښتیا دي (پیرنګی- مسلم لیګ او مونږ.) ۳۳۸مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

يې فخر افغان، خان عبدالغفار خان کوله) ډېر ناوړه چلند پیل کړ، تر دې چې د پاکستان له جوړېدو یو کال وروسته د ۱۹۴۸ز. کال د اګست په ۱۲مه نېټه د چارصدې د (بابړې) تولوژنه (چې تولو ته مالومه ده) **د انګرېز د ګوډاګي پوځ لهخوا د پښتنو پر یو سولهییز لاریون، مخامخ ډزې وکړې او شاوخوا ۶۰۰ پښتانه یې شهیدان کړل.** د بابړې دا ستر جنایت داسې مهال تر سره شو چې د پاکستان د پوځ (لوی درستیز) انګرېز جنرال (فرانک مېسروی) ؤ او د خېبر پښتونخوا اعلی وزیر د مسلم لیګ یو فعال غړی عبدالقیوم خان، په خته کشمیری پښتون (پټان) ؤ چې د محمد علي جناح په څېر د انګرېزانو له پخو غلامانو څخه ؤ.
انګرېزان چې له خپل معاصر تاریخ څخه خبر وو، لکه څرنګه چې پښتنو په لوی افغانستان کې څو ځلې شرموونکي ماتې ورکړې وې او په دې هم پوهېدل چې پښتانه د نړۍ پرمخ یو توریالی او اتل قوم دی نو که لر او بر پښتانه سره یو شي، د پاکستان خېر خو هسې هم نشته خو افغانستان به د نړۍ د ځواکمنو هېوادونو په ډله کې وشمېرل شي. «انګرېزان له دې هم وېرېدل چې شوروي اتحاد به د افغانستان په مرسته د هند سمندر ته لاره پیدا کړي.»[4]
انګرېزانو او لاسپوڅو مسلم لیګیانو هڅې وکړې چې د لر او برو پښتنو د یووالي مخه ډب کړي ترڅو پاکستان ونه پاشل شي، هغه وو چې پاکستاني انګرېزي چارواکو او ګوډاګیانو یې د پښتنو په منځ کې د دښمنۍ او کرکې اچولو بېلابېلې لارې لکه: مذهبي، قومي، ژبني او نورې لارې غوره کړې او د انګرېزانو هغه پالیسي:**(بېاتفاقي واچوه، حکومت وکړه)** عملي کړه.

لومړی: په پاکستان کې د مسلم لیګ کسان (چې په واک کې وو) د انګرېزانو په مرسته، هڅې وکړې چې په کوزو پښتنو کې د عوامي نېشنل ګوند (خدایي خدمتګاران) چې مشر یې فخرافغان، خان عبدالغفار خان (پاچا خان) ؤ، د مسلمانانو دښمنان، د هندوانو پلویان او خواخوږي وبولي، په داسې حال کې چې «مسلم لیګ په کال ۱۹۰۶ز. کې د انګرېزانو په لاس، د هند د ملي کانګرس ګوند پر وړاندې جوړ شوی یو ګوند ؤ.»[5] او د هند د ملي کانګرس ګوند چې په ۱۸۸۵ز. کال کې جوړ او د هند د خپلواکۍ او یووالي لپاره یې مبارزه کوله او د انګرېزانو دښمنان وو، له مسلم لیګ څخه ډېر نامتو مسلمانان په کې راغونډ شوي وو او ځینې وختونه د نوموړي ګوند مشري د مسلمانانو په لاس کې هم وه. **لکه مولانا ابوالکلام آزاد چې یو مهال د ملي کانګرس مشر تاکل شوی ؤ چې د هند له خپلواکۍ وروسته د هند د پوهنې لومړنی وزیر شو او حکیم اجمل خان هم د کانګرس ګوند مشر تېر شوي دي. همدارنګه ډاکټر ذاکر حسېن له آزادۍ وروسته د هند ولسمشر پاتې شوي دی[6] چې د کانګرس له مخکښو غړو څخه ؤ او پاچا خان (چې په هند کې د سرحد ګاندي په نوم یادیده) د هند د ملي کانګرس ګوند کلک ملګری ؤ.**
د هند په کانګرس کې نورو ډېرو پیاوړو مسلمانانو غړیتوب درلود چې د هند د جمعیت العلماء او د دیوبند علماء لکه مولانا ابوالکلام آزاد او حسېن احمد مدني د یادولو دي.

دویم: د انګرېزانو په لاربنوونه پاکستانیو چارواکو، له آره قبایلي پښتانه له پوهې، زدهکړې او خپل تاریخ څخه ناخبره ساتلي دي، ماشومانو ته په ښوونځیو کې، لکه څرنګه چې د پښتنو رېښتنی تاریخ دی، نه ښودل کېږي، د دې پر ځای چې پښتانه زدهکوونکي له خپل وياړلي تاريخ خبر کړي، پر ځای يې د هند او افغانستان په اړه منفي ښووني ورزدهکوي.

---

[4]: عبدالولي خان: رښتیا رښتیا دي (پیرنګی- مسلم لیګ او مونږ.) ۱۸۰- ۲۴۵مخونه
[5]: عبدالولي خان: رښتیا رښتیا دي (پیرنګی- مسلم لیګ او مونږ.) ۳۶۱مخ
[6] :HT This Day: May 10, 1967 – Dr Husain elected president". Hindustan Times https://www.hindustantimes.com/india-news/ht-this-day-may-10-1967-dr-husain-elected-president-101652118744718.html

درېیم: د پاکستان په پولیسو کې پښتانه په لوی لاس داسې روزل شوي چې تل باید خپل پښتانه، په ځانګړي توګه، بر پښتانه چې قانوني اسناد هم په لاس ولري ځوروي، پیسې ترې اخلي او ډول، ډول ناوړه چلند ورسره کوي.[7] په داسې حال کې چې په پنجاب کې پولیس له پښتنو سره کار نه لري.[8]

څلورم: دا چې یو شمېر تیټپوړي پښتانه افسران او عسکر چې د پاکستان په پوځ کې دندې ورکړای شوي دي، په قصدي توګه د پنجابي پوځیانو لهخوا د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې ځایپرځای شوي تر څو په ښتنو او جګړو کې دواړو غاړو پښتنو ته مرګ ژوبله واړول شي چې د لرو او برو پښتنو په منځ کې د کرکې او دښمنۍ سبب کیږي.

پنځم: پنجابی پوځ په پنجاب کې د ټيټيپي وسلهوالو سرتېرو د بریدنو مخنیوی کوي خو د پښتنو په سیمو کې پنجابي پوځیان نه غواړی په رښتیني توګه د ټيټيپي د بریدونو مخه ونیسي، داسې ویل کیږي چې همدغه پوځیان مرسته کوي چې د پښتنو په سیمو کې په اسانی سره بریدونه وکړي چې طبعاً پښتانه په کې وژل کیږي چې دا هم د پښتنو په منځ کې د دښمنۍ د راپارولو بله وسیله ده.

شپږم: پنجابیانو یو بل ستر زیان چې پښتنو ته، د پښتنو په لاس رسولی دی، دا دی چې پښتانه یې د پاکستان د ګټو لپاره، لکه د یوې وسلې په توګه د افغانستان او هند پر وړاندې استعمال کړي دي، د پښتنو یو منفي اړخ دا دی چې پښتانه قومونه ډېر ژر غولیږي، چا ته چې په لاس ورشی په ډېرې اسانی سره یې د دین په نوم د یوې وسیلې او وسلې په توګه استعمالوي.
که چېرې پښتنو ته یو داسې کس راشي چې په عربی خبرې کوي نو دوی فکر کوي چې دا سړی د پیغمبر (ع) له قوم څخه دی نو هغه کس چې هر څه ورته وايي، پښتانه یې په پټو سترګو مني او هر ډول قربانیو ته چمتو وي خو **که د جهاد یا غزا، شهادت او غنیمت غړ واوري، جګړې ته په هوا ورځي.** دا فکر نه کوي چې د دین او هېواد په لاره کې جګړه کوي، که د بل چا لپاره په پردی جګړه کې ځانونه وژني!
له بده مرغه پښتون ولس د پاکستان لپاره داسې جګړې کړي چې وژل شوي پښتانه دي، ګټې او ویاړونه پنجابیانو وړي دي، حقیقت دا دی چې دا ډول جګړې پښتنو د خپلو دښمنانو لپاره، په ناپوهی کې، د جهاد په نوم خپل هېواد تباه کړی او خپل ورونه یې وژلي چې د دغو تباهیو پایله نن هم افغانان په خپلو سترګو ویني ... .
که موږ ژوره ځېرنه وکړو نو د پردیو لپاره د پښتنو د جګړو لړۍ ډېره اوږده ده چې له دغې لړۍ څخه یوه هم **د کشمیر جګړه** د یادولو ده.
هغه مهال چې هند وویشل شو نو د کشمیر نواب، هندو مذهبه، مهاراجه (هري سنګ) د ۱۹۴۷ز. کال د اکتوبر په میاشت کې، د کشمیر یوځایکېدل له هند سره اعلان کړ چې د هري سینګ دا ډول پرېکړه د پاکستان د نوي هېواد د چارواکو د هیلې پر خلاف وه. په داسې حال کې چې کشمیر په خپله د مسلم لیګ چارواکو د حماقت هند ته ډالۍ شوی ؤ، په دې اړه د فخرافغان، پاچا خان زوی، عبدالولي خان لیکي: **«... مسلم لیګ پرې هېڅ د اعتراض حق څکه نه لري چې مسلم لیګ، د [هند] د ریاستونو په هکله دا اعلان کړی دی چې د ریاست الحاق به د ریاست حکمران کوي نو په دا شان مسلم لیګ د**

[7]: په دې اړه مې یوه لنډه خو مستنده لیکنه **(په خوب کې سپي، د ورځې پاکستاني پولیس)** لیکلې وه چې د افغان جرمن پورتال په، سایر نویسندګان. آرشیف کې یې لوستلی شئ.
[8]: اوس مهال د پاکستان په ټولو سیمو کې کډوال پښتانه په ډېرې بېعزتۍ او بېشرفی سره له پاکستان څخه شړي کیږي، تر دې چې د کډوالو ښځې د خپلو کورنیو او خلکو پر وړاندې وهي چې ډېره د شرم او بېننګی خبره ده!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**خپله لاسه د کشمير د قسمت د فيصلي لار آزاده کړه او دغه رياست يي په جونګه**[9] **کي هندوستان له ډالۍ ورکړ.** دغه شان دا بله تيوته د مسلمانانو د اکثريت د تقسيم مسلمان په سلسله کي له لاسه ووته.[10]
د پاکستان مسلم لېګ چي د خپلي ناپوهی له امله يي کشمير هند ته ورکړی ؤ چي د کشمير د خپلولو بله لاره نه وه ورپاتي نو پرېکړه يي وکړه چي بايد کشمير د زور له لاري ونيول شي. خو د هندي ځواکونو پر وړاندي يي زور او ځواک هم نه درلود او د پاکستان نوي هندي مهاجر او پنجابيان چي د جګړي خلک نه وو، پاکستانيو چارواکو پرېکړه وکړه چي پښتانه قبايل له هندوانو سره د جهاد په نوم جګړي ته راوبولي چي په دې اړه ځينو پاکستانيو چارواکو ته دنده وسپارل شوه چي يو هم «بريد جنرال (برېګېډير) اکبرخان ؤ چي هغه مهال د پاکستان د مرکزي پوځ د وسلهتون مشر ؤ او ورته وويل شول چي قبايلو ته دې وسلې ورکړي خو چي برېتانياوي افسران پرې خبر نه شي.»[11]
**انګرېزي افسران:** له ۱۹۴۷ز. کال، د پاکستان له جوړېدو وروسته تر ۱۹۵۱ز. کال، د جنوری تر ۱۷مي نېټي پوري د پوځ سرقوماندان انګرېز جنرال (سرفرانک ميسروي) او ورپسي جنرال (سرډګلاس ګريسي) وو.
هغه وو چي پښتانه قبايل لکه وزير، اپريدي، يوسفزي او نور ډېر پښتانه قومونه، له هندوانو سره د غزا او جهاد په نوم کشمير ته وخوځېدل.
جنرال اکبرخان وايي چي د لرغوني زماني «... د اسونو او اوښانو پر ځای جنګيالي په لاريو او بسونو کي سپاره وو. په يوه لاری کي له ۴۰ - ۷۰ پوري کسانو سفر کاوه چي ځيني يي پاس په چتونو او مډګاډونو باندې نښتي وو. په دوی کي لږ کسان داسي وو چي ښې جامي يي په غاړه وې، د زياتو کسانو جامي شلېدلي او د ځينو په پښو کي پيزار [څپلی] هم نه وې خو دوی ټول ښه تکړه ښکارېدل- ښکلي او زړه پاروونکي خلک وو. له دوی سره انګرېزي، فرانسوي، جرمني او د نورو ملکونو جوړ شوي ټوپک تمانچې، جزيل، اوږده او د لنډو شپېليو لرونکي ټوپک ... ورسره وو. **د ځينو سره هيڅ ډول بارودي وسله نه وه، ويل يي چي له دښمنه به وسله اخلي. دوی چاقوګان يا خنجر لرل.** په دې ګاډو کي يو زوړ موټر هم روان و چي نه يي چت درلود، نه د رڼا څراغونه او نه يي بريکونو کار کاوه... ځوانانو ډولونه غږول، جنګي سندرې يي ويلي او ناره تکبير (الله اکبر) غږونه يي کول.»[12]
څوارلس زره ځوانان، دغه د جګړې تېکهداران او سرپرېکړي پښتانه د پاکستانيانو په غوښتنه په داسي ناوړه حالت کي جګړې ته روان وو چي پاکستانيو چارواکو د جګړې اړيني وسلي او مهمات نه شول ورکولی. د جنرال محمد اکبر خان «په وسلتون کي پخوانی ګولی [کارتوس يا مرمی] او هغه ناکاره بارود اېښي وو چي د کراچۍ سمندر ته د غورځولو لپاره چمتوي شوي وو. د بارودخوني مشر کرنل اعظم خانزاده له اکبر خان سره ژمنه وکړه چي هغه پوچي ګولۍ به هم په پټه کشمير ته واستوي او انګرېز مشر ته به ووايي چي هغه يي سمندر ته غورځولي دي... .»[13]
سربېره پر دې «هغه ۴۰۰۰ ټوپک چي له وسلهتون څخه قبايلو ته ورکول کېدل، د پنجاب پوليسو لهخوا په لاره کي بدل شوي او د ځينو اصلي انګرېزي ټوپکو پرځای يي په دره ادم خيلو کي جوړ شوي، دويمه درجه ټوپک کېښودي وو.[14] دغو ټوپکو ډېرۍ کولي شوې خو کله نا کله به د ټوپک شپېلۍ د ډز سره وچاودېده او له کاره به ولوېده.[15]

---

[9]: جونګه: په اوښه پسي د اوښي بچی، جونګي ورکول، يا په سودا کي اضافي څيز ورکول.
[10]: عبدالولي خان: رښتيا رښتيا دي (پيرنګی- مسلم ليګ او مونږ.) ۳۰۶مخ
[11]: د صفيه حليم له ليکنې څخه: د کشمير غزا-۱۹۴۷م:https://www.safiahaleem.com/?p=5907
[12]:د صفيه حليم ليکنه: د کشمير غزا-۱۹۴۷م
[13]: هماغه سرچينه.
[14]: هماغه سرچينه.
[15]: د پاکستان له دغې ډول خيانت څخه ښکاري چي پاکستاني چارواکي، په ځانګړي توګه له ازله غله او خاينان وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د کشمیر د هوایي ډګر لپاره هغه ۲۰۰ تنه پښتانه ساتونکي چې د پاکستانیو چارواکو لهخوا ګومارل شوي وو، تش لاس کشمیر ته ولیږل شول چې له مرګ ژوبلې سره مخ شول، صفیه حلیم یې په اړه لیکي: «د کشمیر د سرینګر د هوایي ډګر د ساتنې لپاره هغه د ۲۰۰ تنو قبایلو کومه ډله چې ورغلي وه، هغوی ته هیڅ ټوپک نه وو ګرل شوي چې **د هندي عسکرو په ډزو کې د دوی ۳۰ کسان هم هلته ووژل شول.»**

د پښتنو لښکر د ۱۹۴۷ز. کال د اکتوبر په ۲۹مه نېټه، نیمه شپه د کشمیر درو ته ننوتل، ها خوا د هند حکومت په ۱۰۰ الوتکو کې له ډیلي څخه کشمیر ته پوځیان ولېږل او پښتانه د هندي الوتکو له بمبار او توغندیو د ډزو لاندې راغلل.

سره له دې چې پښتانه د کشمیر له سختې ځمکنۍ جغرافیې او موسمي ناوړه هوا سره مخ وو، بیا هم دوی مخ پر وړاندې روان وو. جنرال اکبر خان لیکي چې **«قبایل هلته له اوبو سره لاس او ګرېوان وو، تالابونه، سیندونه، ویالې او باران هر څه د دوی د پرمختګ مخه نیوله. هوا هم سړه وه خو دوی به په کې روان وو.»**[16]

**«پښتنو په پنځو ورځو کې ۱۱۵ میله مزل وهلی ؤ او سرینګر ورته ۴ میله وړاندې پروت ؤ.»**

پښتنو شاوخوا یو کال دوه میاشتې له هندي پوځ سره په لږو امکاناتو خو په لوړ مورال جګړه وکړه او هغه مهال چې «د ۱۹۴۹ز. کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب جګړه پای ته ورسېده او د کشمیر سیمه د هند او پاکستان ترمنځ د کنټرول پر کرښه ووېشل شو.»[17] **او د کشمیر نیمه خاوره پاکستان تر لاسه کړه، په داسې حال کې چې «یولس زره پښتنو ځوانانو خپل سرونه له لاسه وکړي وو.** او هغه درې زره ژوندي پاتې پښتانه نهیلي له کشمیره ووتل، د کشمیر هغه برخې چې له پاکستان سره پاتې شوې، د آزاد کشمیر په نوم یو ریاست جوړ شو او سردار ابراهیم یې صدر وټاکل شو.»[18] او بیا یې پښتنو پرې کړه:

## توري دې لالا وهي مرى دې کوپالا وهي

وایي چې د کشمیر له جګړې وروسته د پښتنو په سیمو، په ځانګړې توګه په وزیرستان کې د یتیمانو لښکرې جوړې شوې، پلرونه یې په پردی جګړه کې وژل شوي وو او کورنۍ یې بېسرپرسته پاتې شوې وې، ټول پوهېږو چې د یتیمو ماشومانو او کونډو ښځو څه حالت وي.

---

[16]: د صفیه حلیم لیکنه: د کشمیر غزا-۱۹۴۷م

[17]: https://www.bbc.com/pashto/articles/c20nrx3k7q5o

[18]: د صفیه حلیم لیکنه: د کشمیر غزا-۱۹۴۷م.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



(پښتانه قبایل، د کشمیر جګړې لپاره د تیار سئ په حال کې)[19]

نېټه:۱۴۰۴/۱۲/۲۱ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري لیکني یه دی لینک کي ولولی.

19:https://www.bbc.com/pashto/articles/c20nrx3k7q5o



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه تینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ